سرای آخرت از آن پرهیزگاران است

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

[القصص:٨٣]

ترجمه: اینک سرای آخرت را برای کسانی قرار دادیم که نمی‌خواهند در روی زمین تکبر کنند و نه فساد کنند و سرانجام نیک برای پرهیزگاران است.

شرح: فرمودهٔ خدای تعالی: ﴿تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ﴾: این جمله ابتدائیه، آغاز تشویقیست در وصف سرای آخرت، زیرا دنیای فانی بر سرای آخرت سبقت گرفته است و خداوند با این گفته‌اش از آن خبر می‌دهد: ﴿نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا﴾: یعنی سرای آخرت مأوا و منزل کسانی می‌باشد که نمی‌خواهند در این زندگی دنیا بر مردم مسلط شده و بر آن‌ها خودخوهی و تکبر ورزند و نه با ارتکاب گناه مانند شرک، قتل، زنا، دزدی و شرابخواری بر زمین فساد نمایند. و فرموده خدای تعالی: ﴿وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾: جمله تعقیبی و پیرو جملهٔ پیشترش می‌باشد که حامل مژده و بشارت است به نیکی و حسن عاقبت هم در این دنیا و هم در آخرت. و اهل آخرت پرهیزگارانی اند: که از عذاب خدا ترسیده و اوامر و نواهی‌اش را اطاعت کردند، زیرا انجام اوامر الهی نفس را تزکیه نموده و او را برای نعمت‌های سرای آخرت آماده می‌سازد و هرگاه نفس تزکیه و پاک گردد صاحبش را از مهالک و پرتگاه‌های دنیا و پستی‌ها دور می‌نماید، زیرا دوری‌کردن از نواهی طهارت نفس را حفظ نموده و از بدی‌های زندگی دنیا نگهداریش می‌نماید.

راهنمائی‌هایی برای مربی:

1- آیت را با قرائت خوب بخوان و شنونده‌ها با تو تکرار نمایند تا بیشترشان آن را حفظ نمایند.

2- شرح را بخوان و معنی هر جمله را بیان کن و تکرار نما تا شنونده‌ها بفهمند.

3- آگاه‌شان گردان که این آیه آرزوهای بیهودهٔ آنانی را که می‌گفتند: با ایمان هیچ چیز ضرر نمی‌رساند و مؤمنان همگی نجات‌یافتگان اند از بین برد چنانکه فضیل بن عیاض گفته است که برای اهل آخرت شروطی وضع شده که از جمله: ایشان در روی زمین برتری جویی و فساد را اراده ندارند.

4- پندشان ده: که علی بن الحسین در حالی که سواره بود بر مساکینی گذشت که نان خشک می‌خوردند برایشان سلام نمود سپس او را به غذای خود دعوت نمودند این آیه را خواند: ﴿تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ﴾ و از اسپش فرود آمد و با اوشان غذا خورد.

5- برای‌شان یادآور شو که عاقبت نیک و پسندیده در دنیا و آخرت خاص برای پرهیزگارانی است که از شرک و گناه پرهیز نموده و به آن نزدیک نمی‌شوند.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمني، چهار راهی حاجي محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر، ۸۸۷۰۳۰۵

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت نظرمنزل۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال‌آباد، نارنج باغ، عبدالحق مبنه، (دکابل د موترو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تیلیفون: ۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاق زی مارکیټ زیرزمیني

ښي لاس ته لومړی دوکان- اصلاح افکار ۰۷۸۷۰۹۰۶۳۰

کندهار: نوی ښار، د هرات سړک، د سړي جامع غرب طرف ته سوري مبنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي د تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ ـ ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: جاده بانک خون، بالا تر از تالار قمر، گذر هشت بهشت، انجمن اخلاق و معرفت تیلیفون: ۰۴۰۲۳۵۵۹۰

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۹۶۹۴۲۴۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ / ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز ښار، مرکزي چوک، د نمایند وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزی طبی لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوی دفتر د اکتر محمد گلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیشور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۱۵۸۵۲۷۹۵

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش نشرات و فرهنگی

هفته نامه اصلاح اونیزه

د اسلام د اصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

www.eslahonline.net

دلیکوال پلاوي تر نظر لاندې

دامتیاز خاوند:

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان

رئیس هیأت تحریر:

عبدالفتاح جواد

مدیر مسئول:

نقیب الله حمید 0774327438

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

سرمقاله

د ټولټاکنو ناندرۍ به کله ختمېږي...؟

څه باندې درې میاشتې د جمهوري ریاست د څوکۍ لپاره د ټولټاکنو له لومړي پړاو څخه تېرېږي، خو تر اوسه هم د ټولټاکنو وروستۍ پایلې نه دي اعلان شوي، او هره ورځ پکې یوه نوې کیسه را ولاړېږي.

په هېواد کې د ټولټاکنو د دویم پړاو ناندریو دا په ډاګه کړه چې دلته هرڅه د پردیو په مشوره کېږي او دجمهوري ریاست وروستۍ ټولټاکنې په اصل کې د امریکا د متحده ایالاتو د سیاسي لوبغاړو لپاره یوه لاسته راوړنه وه، نه داچې په رښتیني توګه دې افغانان خپل سیاسي برخلیک و ټاکي.

وروستیو ټولټاکنو په حقیقت کې افغانانو ته هېڅ ګټه نه لرله او زیانونه یې له شمېره وتلي دي، که له یوې خوا دهمدې ټولټاکنو د پروسې پرمهال په لسګونو بې ګناه افغانان ووژل شول، له بل لوري په ملت کې د سمت، ژبې، قوم او مذهب په نامه د وېشنې شرمونکې هڅې وشوې، چې تر اوسه هم روانې دي.

له بل پلوه د هېواد په کچه د ټولټاکنو د نتایجو د پایلو په انتظار کې هرڅه په ټپه ولاړ دي، اقتصادي او سیاسي حالات ورځ تر ورځ خرابېږي او په ښارونو او بازارونو کې کارونه تر ډېره په ټپه ولاړ دي.

په لومړیو کې هېوادوال تر یوې اندازې دې ټولټاکنو ته خوشبینه وو، او په دې هیله وو، چې ټولټاکنې به په رښتینې توګه د دوی د ارادې ویندویي وکړي او پایلې به یې په شفافه توګه پر خپل وخت اعلان شي، خو وروستیو پېښو او ناندریو او د امریکا منځګړتوب دا په ډاګه کړه چې دا ټاکنې ددوی ټاکنې نه، بلکې دنورو په خوښه او دهغوی سیاسي لوبه ده، او افغانستان او افغانان یوازې دیو لابراتوار او تجربې په توګه پکې استعمالېږي او په دې لاره کې دسلګونو افغانانو وینې توېدل ورته بې ارزښته برېښي.

اوس ملت هم له دې پروسه ناهیلی شوی او دپایلو اعلان ته یې هم هغه تلوسه نه لري لکه څومره یې چې په لومړیو کې لرله، خو ددې لپاره چې په هېواد کې دکارونو څرخ په خوځښت راشي، نو په دې هیله دي چې د جمهوري ریاست د دویمې دورې دواړه محترم کاندیدان نور د وروستیو پایلو د اعلان پر وړاندې خنډونه پیدا نه کړي، ترڅو هېوادوال له دې نا بللي مصیبت نه په آرام او خلک د سکون نفس واخلي.

ټاکنیـز کړکیچ،دعوایدوکمښت،وزګارتیا اودرپدره ولس!

احمدضیاء رحیمزی

له کله نه چې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنې د روان لمریز کال د وري په شپاړلسمه نېټه، یوې منطقي پایلې ته ونه رسېدې او ولس چې له کومې بدې ورځې ډارېده، هغه د دویم پړاو ټاکنو د ترسره کېدو په بڼه ور دغاړې شوه، نو په څنګ کې یې ګڼې نورې ستونزې هم خوار افغان ولس ته وزېږولې چې له نا امنیو نیولې، بیا د وزرګاتیا د کچې تر لوړېدو، د سوداګریزو معاملو او کار وبار په ټپه درېدو او بالاخره د یو هر اړخیز ناورین په توګه څه په سیاسي او څه په ټولنیز ډګر کې تر ننې ولس ځوروي او لا هم روښانه نده چې په لنډه موده کې به کابل ته، د سیمه ییزوکړکیچونو د لوی اوبریالي !!منځګړي په توګه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري دویم ځلي سفر له ځان سره کومه معجزه یا د سیاسي شنونکو په خبره جادویي کلۍ ولري او که نه.

دا هم څرګنده ده چې په تېرو څوارلسو کلونو کې بد بختانه پر خوار افغانستان د تپل شوې لویدیز والې ډېموکراسۍ له برکته د افغانستان له اقتصاده نیولې، تر سیاسته او آن د ورځني ژوند تر وړو پرېکړو پورې ټول یا په بهرنیانو پورې تړل شوې دې یا هم د هغه مافیایي کړیو، کانګسترونو او باندېونو تر کنټرول لاندې دي چې د پانګوالۍ اقتصادي نظام او لویدیزې ډېموکراسۍ طبیعي زېږنده ګڼل کېږي او په امریکا او اروپا کې له موده تر غورځېدو وروسته په خوار افغانستان یا د منځنۍ آسیا په خوارو هېوادو کې اوس اوس خپلې جرړې پخوي.

د تېرې اونۍ په اوږدو کې بېلابېلو رسنیو دا رپوټونه خپاره کړل چې ګواکې د ټاکنېزې پروسې اوږد والي او له ټاکنو را ولاړې شوې سیاسي ستونزې په هېواد کې سوداګریزې معاملې نژدې په ټپه درولې او د ملي عوایدو کچه یې کمه کړې ده او له افغانستان سره یې د پانګه والو لېوالتیا کمه کړې چې پر نوروستونزو سر بېره یې د بې کارۍ کچه هم زیاته کړې ده.

پدې راپورنو کې دا هم ویل شوي ووچې دهېواد ملي سوداګر او عام خلک له اړوندو ادارو او د ولسمشرۍ له دواړو نوماندانو ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټرعبدالله څخه غواړي تر څو د ټاکنیزو ناندریو او کړکیچونو له زیاتولو ډډه وکړي، چې ژر تر ژره په هېواد کې له شته سیاسي ستونزو را پیدا شوې ناخوالې پای ته ورسوي.

پدې ترڅ کې د صنعت او تجارت خونو د چارواکو له خولې دا هم ویل شوي و چې ټاکنیزو ناندریو او له ټاکنو را ولاړ شوي کړکیچ،سوداګریزې معاملې کمې کړې او نژدې اتیا سلنه پانګه وال هڅه کوي تر څو خپلې پانګې له هېواده وباسي.

دا نه یوازې سوداګریزې معاملې او پانګونه ده چې په هېواد کې د روان ټاکنیز کړکیچ او ناندریو له امله زیانمنې شوې دي،بلکې په عامه اوملي کچه د عوایدو کموالی اود تېر په پرتله نسبي ټاکل شویو موخو ته نه رسېدنه ده چې زمونږ اقتصاد او آن ورځنۍ ژوند یې اغېزمن کړی دی، چې آن په لوړه کچه په خپله د مالیې وزارت ویاند پدې اعتراف کوي، چې د روان مالي کال له پیله تر اوسه، دغه وزارت ۵۷،۱ میلیارده افغانۍ عواید درلودل، په داسې حال کې، چې د وزارت ټاکل شوی هدف ۷۰ میلیارده افغانۍ و او زیاتوي چې د مالیې وزارت له دې امله یادې موخې ته نه دی رسېدلی،چې د ټاکنیز جنجالونو په دوام او دغه پروسې په اوږدېدود هېواد د صادراتو او وارداتو کچه کمه شوې ده.

بل اړخ ته په ورته وخت د اقتصاد وزارت هم وایي چې ځینو بهرنیو مرسته ورکوونکو موسسو او او هېوادونو خپلې یو شمېر مرستې له افغانستان سره درولې دي، څکه دغه هېوادونه چې د ټاکنو د پایلو د اعلان او کابل- واشنګټن ستراتیژیک امنیتي تړون د لاسلیک انتظار کوي.

اوس دې ټولو ته په کتو په ډاګه څرګندېږي چې د ولسمشرۍ وروستیو ټاکنو او بیا د دویم پړاو ټاکنو پایلو او د هغې د منلو او نه منلو پرسر د دوه نوماندانو او د هغوی د پلویانو ترمنځ ناندریو او کړکیچونو مونږ له کومو ستونزو او ناخوالو سره مخ کړې یو؟ په افغانستان کې وروستي ټاکنیز بحران نه یوازې واک ته د رسېدو د ناوړه لوبې له امله، په ټوله نړۍ کې د افغان سیاستوالو څېره په ډاګه کړه او د امریکا په ګډون یې ګڼو نړیوالو هېوادو ته دلته د خپلو نا مشروع ګټو ته د رسېدو لپاره د لوبې دګرمولو زمینه برابره کړې ده چې په کور دننه یې د خوار افغان ولس سره تر ټولو ستره

جفا کړې او لا هم څرګنده نده چې دا کړغېږنه لوبه به تر کومه بریده او تر کله ددغه جګړه ځپلي او درپدر ولس وینه وچوي او لا به کومې ناخوالې نورې ددوی په انتظار وي.

په داسې حال کې چې د افغانستان د روان ټاکنیز بحران د حل او د دویم پړاو د دوه نامتو نوماندانو تر منځ د جوړې روغې او د دواړو ټیمونو ترمنځ د افغانستان د نیمه خپلواکې واکمنۍ د وېش په موخه، دادی د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري یوځل بیا کابل ته را رسېدلی دی، هغه شمېرې او اعداد چې د اړونده ادارو له خوا دعوایدو د کمښت، په ولس کې د وزګارتیا دکچې د لوړېدو او په بهرنیو مرستو ولاړ اقتصاد درلودونکي هېواد په توګه له افغانستان سره د بهرنیو مرستو د کمښت په اړه وړاندې کېږي، له ورایه د خوار ولس په ذهن کې دا تصویر جوړوي چې مونږ له دغه دوه پړاوه ناندریزو ټاکنو څخه څه ترلاسه کړل او په مقابل کې مو یې څه له لاسه ورکړل؟

د دواړو پړاوونو او په خاصه توګه د دویم پړاو ټاکنو لپاره د کمپاینونو په ترڅ کې د قومي، سمتي او ژبنیو تعصباتو ته لمن وهل او په ډېرو څرګندو ټکو د قومونو او توکمونو ترمنځ د تفرقې او بې اتفاقۍ اور تازه کول او د پایلو تر ابتدایي اعلان وروسته آن د تجزیې او وېش په پولو د هېواد درول، پردې مادي او تخنیکي ستونزوسربېره هغه سوغات دی چې متاسفانه له دغه ټاکنو څخه د افغان ولس په ذهنونو کې نقش پاتې دی.

منو چې په هېواد کې تر دریو لسیزو پرله پسې جګړو او ورانیو وروسته، دلومړي ځل لپاره د سیاسي واک د سوله ییز لېږد لپاره ، له ټاکنو او د خلکو او ولس رایې ته تر مراجعې پرته بله غوره لارې شتون نه درلود، خو په عین وخت کې دې پوښتنې ته هم د ځواب لټول ضروري و چې آیا مونږ او زمونږ هېواد له هره اړخه دغه ټاکنو ته آماده وو؟

اوس چې کله د بیکارۍ، د عوایدو کمښت، د بهرنیو مرستو کمښت او یا بیخې درېدل، په ولس کې د بې روزګارۍ او وزګارتیا د کچې په افراطي بڼه لوړېدنه او نورو ورته موضوعاتو ته پاملرنه وکړو، په څرګنده په ډاګه کېږي چې مونږ ددې ټاکنو لپاره تر ټولو لویه بیه پرې کړې ده او لا هم نده څرګنده چې په دې پرې کړې بیه به هم لدې لانجو اوکړکیچونو څخه خلاص شو او که به د نورو ستونزو او ناخوالو شاهدان هم وو؟

پدې ترڅ کې په زړه پورې داده چې اوس د افغانستان د ټاکنیز کړکیچ په ترڅ کې، کابل ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري د دویم سفر په ترڅ کې به دواړه نوماندان د واک د وېش پرسر یوه توافق ته ورسي، د حکومت کرسۍ به سره ووېشي، دواړه به په ګډه پر خوار او له هره اړخه ځپل شوي ولس د خپل واک او اقتدار چړه وازمویي، خو هغه کسان، ډلې، قومونه اوپه تېره بیا سیاسي او ټولنیز شخصیتونه به چې د ټاکنیزو ناندریو په ترڅ کې یې یوبل ډېر ښه ونمانځل په کومو سترګو او په څه ډول یو بل ته ګوري او که چېرې لدې دواړو ډلو ځیني کسان د واک د وېش په لړۍ کې په یوه اداره کې سره ګومارل کېږي، د هېواد او ولس چارې به په څه ډول اداره کوي؟

لدې ټولو سره سره هغه څه چې اوس یې ولس ددومره ناخوالو او ناندریو نه وروسته هېله لري هغه دادي چې نور دا بحران او ناخوالې په هر ډول چې وي، ژر تر ژره پای ته ورسېږي او خوار او جګړه ځپلی ولس نور خپل عادي ورځې ژوند ته راوګرځي، د کار او روزګار زمینه برابره شي او خلک د وېرې اوترهې لدې حالت څخه ووزي. پای

بهرنۍ مرستې څومره شفافې،
او په بیا رغونه کې د ۱۰۴ ملیارد ډالرو لګولو دعوه څومره رښتینې ده؟

اصلاح رسنیز ګروپ،نعمت الله عزیزي

وروسته تر هغې چې په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې دامریکا په مشرۍ نړیواله ټولنه افغانستان ته راغله ، په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره دمرستندویه هېوادونو مرستې هم پیل شوې؛ چې که څه هم په ټول هېواد او ولس یې ډېر پراخ اغېز نه درلود، خو له ځینو افغانانو سره یې د هغوی د ژوند په سمون کې مرسته وکړه.

افغان حکومت له لومړي سره غوښتل چې دغه مرستې د دوی په لاس ولګوي؛ خومرستندویه هېوادونو ورسره ونه منله او دغه مرستې یې په مستقیم اوغیرمستقیم ډول په خپله ولګولې. خو اوس له هغه وخته د نژدې څوارلسو کلونو په تېرېدو دافغانستان د بیارغونې څخه دځار امریکایي اداره(سیګار) وایي چې دوی پدې موده کې دلته تر۱۰٤ میلیارده ډالرو زیاتې پیسې لګولې دي.

دسیګار په وینا پدې موده کې په افغانستان کې دنشه یی توکو سره دمبارزې په برخه کې نژدې اته میلیارده ډالرمصرف شوي دي، پداسي حال کې چې دنشه یي توکو دکښت اوتولید ګراف هرکال د ښکته کېدو پرځای لوړېږي؛ اوبل خوا روسي چارواکې په زغرده تور لګوي چې په افغانستان کې مېشت امریکایي اوناټو ځواکونه، په پټه دنشه یي توکو کښت اوقاچاق ته پراختیاورکوي، د غه د څار اداره وایي چې ددې قضیې اصلي لامل په افغاني اداروکې دفساد شتون دی چې بیارغونه یې له ستونزوسره مخ کړې ده.

پوښتنه داده چې رښتیاهم د فساد شتون ددې مخه نیولې چې دغه مرستې په سمه توګه ونه لګول شي اوکه څه نورلاملونه هم شته؟

داچې په افغانستان کې دنشه یي توکو دکښت اوقاچاق دکچې دلوړیدو اوپراخیدو لاملونه څه دي؟ دا اوځینې نورې پوښتنې مو دکارپوهانو، اواقتصادي چاروشنونکومخ ته ایښې دي چې نظریات یې دلته له تاسوسره شریکوو:

د مرستو د کم رنګۍ اوسمې نه لګېدنې لاملونه:

داچې ددې مرستو د کم رنګۍ اوپه سمه توګه دنه لګیدو لامل یوازې فساد دی اوکه څه نورلاملونه هم شته په اړه یې دسیمه ییزومطالعاتو مرکزمشر عبدالغفورلېوال پدې نظر دی چې په ادارو کې د وړتیاوو کمښت او تریوه بریده د فساد شتون یولامل کېدای شي، مګرد لېوال په نظر دا دومره لوی لامل یي فساد نه دی لکه څنګه چې دوی ورته اشاره کړې ده.

د سیمه ییزو څېړنود مرکز مشر له اصلاح رسنیز ګر وپ سره د یوې مرکې په ترڅ کې څرګنده کړه چې ددې کار یولوی لامل دادی چې نړیوالومرستندویه هېوادونوپه سرکې یې امریکا دافغانانو لومړیتوبونو ته پاملرنه ونه کړه اوخپلوضرورتونوته یې لومړیتوب ورکړ، بل داچې دوی په افغانستان کې اقتصادي سرچینې تشخیص نه شوای کړای.

ښاغلی لېوال دبېلګې په توګه یادوي چې بهرنیانوددې پرځای چې دلویولاروپه جوړولوپانګونه وکړي او افغانستان دمنځني اوسویلي آسیا سره وتړي، دهغې پر ځای یې په نوروبرخوکې پیسې ولګولې چې دافغانستان لپاره دومره ګټورنه ؤ.

دښاغلي لېوال په وینا بهرنیان دغلطو سیاستونوپه بنسټ دسیمې دهېوادونو تراغېز لاندې راغلل او د افغانستان د اوبو د ذخیره کولو، انرژی تولیدولو اوپه کرهڼه کې دهغه څخه ګټې اخیستنې لپاره یې هېڅ کارونکړ.

دسیمه ییزو څېړنو دمرکزمشر همدارنګه زیاتوي چې بهرنیانو د افغانستان په بنسټېزو پروژو باندې کارونکړ اوددې پرځای یې په ښکلوهوټلونوکې په بې ګټوغونډو، کنفرانسونواو سیمینارونوباندې پیسې ضایع کړې چې افغانستان ته یې ګټه نه درلوده.

ښاغلی لېوال دخبروپه دوام دا هم وایي چې بهرنیانو ددغه مرستو یوه لویه برخه په هغه څومیلیونرانو باندې مصرف کړې چې اوس دوی خپله ورسره په جنجال دي همغه ټول نن جګړه ماران اوټوپک وال چې دافغانستان دپرمختګ اوپراختیا پروسه یي له خنډ اوځنډ سره مخامخ کړې دهمدې بهرنیانو دغلطو قراردادونو په پایله کې دوی لوی شول اوقوت یې پیداکړ.

لېوال پدې اند دی چې په سمه توګه ددغه پیسو د نه لګولو ٦٠ تر اویا سلنه پړه دبهرنیانوپه غاړه ده اوپاتې ۳۰ ترڅلوویښت سلنه یې دافغانانوپه غاړه ده چې دوی ونشوای کولای لازمي وړتیاوې رامنځ ته کړي.

خو د سیاسي چارو کار پوه او د سلام خصوصي پوهنتون علمي مرستیال دکتورمصباح الله بیا آن پدې اند دی چې کومې پیسې بهرنیانو او په سرکې یې امریکا په افغانستان کې لګولي دي، هغه دافغانستان دآبادۍ لپاره ندي لګول شوي.

دکتور مصباح الله دبېلګې په توګه یادونه کوي چې دوی دلته هغه طبقاتي ټولنه رامنځ ته کړه چې په افغانستان کې دامریکا دراتلو نه مخکې موجوده نه وه.

د سیاسي چارو دغه شنونکي له اصلاح رسنیز ګروپ سره په خبرو کې دا هم وویل چې لوېدېز والو په دغه پیسو یوڅه نمایشي-کارونه وکړل چې دهغه له جملې دغسي ځایونوته سرکونه په ټیټ کیفیت جوړول چې افغانانوته یې ډېره ګټه نه درلوده خوپه دغه کارونه سره یې خپلو خلکوته داڅرګندوله چې موږ خوپه افغانستان کې کارونه کوؤ.

دکتور مصباح الله دبېلګې په توګه دجلال آباد ښارڅخه تر تورې بوړې د سړک جوړول یادوي چې په لوړقیمت جوړشو خوخلکوته یې کومه ګټه نه درلوده اووروسته له هغې چې امریکایان له هغه ځایه لاړل سړک هم دټیټ کیفیت له امله ویجاړ شو.

ډاکټر مصباح الله په دې باوردی چې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې په دغه مرسته شویو پیسو په افغانستان کې هېڅ بنسټېز کار ندی ترسره شوی اوبهرنیانو یوازې خپلو اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړی دی.

د سلام پوهنتون علمي مرستیال زیاتوي چې کومې پیسې چې دافغانستان دخلکودوژلولپاره لکه دبمبارد او نظامي عملیاتو لپاره هم لګول شوې دي، هغه پر افغان ملت باندې دمرستې په نامه حسابېږي.

بل اړخ ته په همدې اړه د کابل پوهنتون د اقتصادپوهنځي استاذ او دمرکزي احصایې اداري مرستیال پوهنمل حسیب الله مؤحد بیاپه دې نظردی چې سیګارپه هرکال کې یو راپورخپروي اوپه هغه کې دامریکا ځینې مرستې چې له افغانستان سره یې کړي څېړي، ددوې په وروستي راپورکې چې دامریکا کانګرس ته یې اورولي په افغانستان کې دفساد شتون ته اشاره شوي؛ اوویلي یې دی چې په افغانستان کې فساد ددې لامل شوی چې د امریکا مرسته شوي پیسې پوره اغیزونلري.

ښاغلی مؤحد پدې ګوت نیونه کوي چې پدې راپورکې یوازې یولامل(فساد) دبیارغونې لپاره ګواښ بلل شوی دی پداسې حال کې چې ډېرزیات لاملونه نورهم شتون لري چې یوله لویو لاملونه څخه یې په افغانستان کې دبهرنیو مؤسسو پروسیجرونه دي؛ بل داچې کومې مرستې چې شوي نړدې۵۱ په سلو کې یې دامنیتي سکتورسره او پاتې ٤٩ سلنه یې دنورو سکتورونوسره مرسته شوي دی.

حسیب الله مؤحد دامني چې په افغانستان کې فسادشتون لري، کاري وړتیاوې ټېټې دي، خو پدې اند دی چې دا سمه نده چې مونږ نورلاملونه له پامه وغورځوو.

د اقتصادي چارو دغه کار پوه هم د دوه تېرو کار پوهانو په څېر پدې اند دی چې په لومړیو وختونوکې د مرسته شویو پیسو ډېره کمه برخه دافغان دولت له لارې اوډېره زیاته برخه یې دانجوګانوله خوا لګول شوې، که تاسې وګورئ هغه لګښت چې انجوګانوکړی دی په سلو کې ۵۰ اوله هغه زیات ددوی خپل اداري لګښت جوړوي.

ښاغلی مؤحد پدې اند دی چې دافغانستان دبیارغونې ته لوی ګواښ دبهرنیانو هغه تګ لارې دي چې دوی په تېرو په کار اچولي دی.

د مرستو لګونې بڼه یو بل لامل:

عبدالغفورلېوال زموږددې پوښتنې په ځواب کې چې افغان دولت ددې مرستو دسمو اوپرځای نه لګیدو یو دلیل داګڼي چې دامرستې په خپله دافغانانو په لاس ونه لګول شوي، که چېرې دغه مرستې رښتیا هم دافغان دولت یانوروافغاني ادارو لخوا لګول شوی وای، نو آیا دا وضعیت به اوس بدل و؟ وایي : زماپه فکرکه دغه مرستې دافغانانو په لاس لګول شوې وای یوڅه به ښه و، ځکه افغانانو خپل لومړیتوبونه پېژندل، زه باورلرم که دغه مرستې دافغان دولت لخوا لګول شوی وای اودوی ورسره د وړتیاوو په برابرولوکې مرسته کړې وای، نن به داوضعیت به ډېر توپیر درلود.

خو د سلام خصوصي پوهنتون علمي مرستیال دکتورمصباح پدې اړه پدې نظر دی چې بهرنیانو او په سرکې یې امریکایانو نه غوښتل چې افغانستان کې دوامداره اقتصادي پرمختګ رامنځ ته شي، بل خوا افغان حکومت هم ددې وړتیا نه درلوده چې په دومره کم وخت کې لویې مرستې په سمه توګه وکاروي.

د دکتور مصباح په وینا په لومړیو وختو کې ډېروپوهانو داغوښتنه درلوده چې دهرسکتورلپاره دې ځانګړي صندوقونه رامنځ ته شي، چې دهرسکتور لپاره دغه پیسې ذخیره شي، دبېلګې په ډول دصنعت دپرمختګ لپاره، د روغتیا لپاره ، د تعلیم لپاره او دکرهڼې دپرمختګ لپاره او نور مختلف فنډونه جوړشي اوکله چې یو په وړتیاوو ولاړ حکومت رامنځ ته شي، د هماغه ذخیره شویو موجوده پیسوڅخه دیوې اوږدې ستراتیژۍ په عملي کولو کې ګټه پورته کړای شي؛ خو دده په خبره: ((په خواشینۍ سره باید ووایم چې دغه کارونشو.))

ښاغلی مصباح الله پدې باوردی چې د لوېدېزو هېوادونو او افغان حکومت سره دغه اراده موجوده نه وه چې افغانستان اقتصادي پرمختګ وکړي.

دکتور مصباح هم د لېوال دغه نظر تاییدوي چې که مرستندویه هېوادونو دغه مرستې افغان حکومت ته ورکړې وای دابه تر یو بریده ښې وای، خو دده په خبره لوېدیز والو نه غوښتل چې افغانستان کې

سیګاراداره په خپل دغه درې میاشتني راپورکې دا هم وایي چې له نشه یې توکیوسره دمبارزې په برخه کې امریکا په افغانستان کې نژدې اته میلیاردې ډالرلګولي دي، دا پداسې حال کې ده چې یوې خوا هر کال په افغانستان کې دنشه یې توکیو دکښت او تولید کچه لوړېږي اوبل خواته د روسیې چارواکو تر دې وړاندې څوځله څرګنده کړې چې امریکا اوناټو په پټه په افغانستان کې دنشه یې توکوکښت اوقاچاق ته پراختیا ورکوي، داچې دغه راپورترکومه بریده دحقیقت پربنسټ چمتوشوي او واقعیتونوته پکې څومره پاملرنه شوي په اړه یې عبدالغفورلېوال وایي چې: ((زه له بده مرغه د نړیوالې ټولنې په صداقت باندې هېڅ باورنشم کولای چې دوی به رښتیا دنشه یې توکوپه وړاندې پرېکنده مبارزه کړې وي، روسیه چې دنشه یې توکو څخه ډېره زیانمنه کېږي، دوی په رښتیا غوښتل چې پدې برخه کې کار وکړي خو دهغو د عملي کړنې صلاحیتونه او امکانات کم ؤ.

کوم بنسټیز کاروشي؛ اوډېرې پیسې یې بېرته خپلوجیبونوکې ورسره یوړې.

د اقتصادي چارو کار پوه حسیب الله مؤحد هم پدې اړه دوه نورو شنونکو ته ورته نظر لري خو ټېنګار کوي چې کومې پیسې چې دافغان دولت دبودجې له لارې دبیارغونې پر پروژو لګول شوې دي، تر یوبریده یې پایله ښه ده، ځکه کومې مرستې چې دانجوګانو له لارې لګول شوې دي د هغو ډېره برخه ددوی اداري لګښتونه تشکیلوي.

نوموړی زیاتوي چې کومو هېوادونو چې مرستې کولی هغوی، خپل شرطونه درلودل اوغوښتل یې چې ددې پیسو ډېره برخه بیرته هغه هېواد ته ولیږدول شي، دبېلګې په ډول له یوې پروژې سره د مرستې پر وخت به یې دا شرط اېښود، چې که دا متخصص راشي ښه دی او بیا به یې هغه ته تر اندازې لوړمعاش ټاکلو،ویل به یې چې دا پروژه مونږ تمویلوو او که دا شرایط نه منل کېږي، مونږیې نه تمویلوو.

له نشه یي توکیو سره د مبارزې څرنګوالی:

سیګاراداره په خپل دغه درې میاشتني راپورکې دا هم وایي چې له نشه یي توکیوسره دمبارزې په برخه کې امریکا په افغانستان کې نژدې اته میلیاردې ډالرلګولي دي، دا پداسې حال کې ده چې یوې خوا هر کال په افغانستان کې دنشه یي توکیو دکښت او تولید کچه لوړېږي اوبل خواته د روسیې چارواکو تر دې وړاندې څوځله څرګنده کړې چې امریکا اوناټو په پټه په افغانستان کې دنشه یي توکوکښت اوقاچاق ته پراختیا ورکوي، داچې دغه راپورترکومه بریده دحقیقت پربنسټ چمتوشوي او واقعیتونوته پکې څومره پاملرنه شوي په اړه یي عبدالغفورلېوال وایي چې: ((زه له بده مرغه د نړیوالې ټولنې په صداقت باندې هېڅ باورنشم کولای چې دوی به رښتیا دنشه یي توکوپه وړاندې پرېکنده مبارزه کړې وي، روسیه چې دنشه یي توکو څخه ډېره زیانمنه کېږي، دوی په رښتیا غوښتل چې پدې برخه کې کار وکړي خو دهغو د عملي کړنې صلاحیتونه او امکانات کم ؤ.

لېوال زیاتوي چې یوشمېر نورو اروپائي هېوادونو پدې برخه کې دمرستې ژمنه کړې وه ، مګر لویه برخه د نړیوالې ټولنې غړي هېوادونه چې په افغانستان کې حضور لري، په تېره بیا امریکا او انګلستان، ددې پدیدې په اړه څوډوله چلند کاوه؛ تردې چې یوشمیرکسان پدې فکر کې وو،چې په خپله بهرنیان دنشه یي توکو په قاچاق کې لاس لري.

د لېوال په باور په افغانستان کې دنشه یي توکو دکښت اوقاچاق د ګراف دلوړېدو اساسي لاملونه دادي چې نړیواله ټولنه اوامریکا ددې توکو په وړاندې دمبارزې په برخه کې صادق ندي اوپه افغانستان کې د روان جنګ یو لامل همدا نشه یی توکې دي چې له همدې لارې وسله وال مخالفین تغذیه کېږي.

لېوال پدې اند دی چې امریکایان نه غواړي جګړه پای ته ورسېږي اوهغه هېوادونه چې په رښتیا غواړي دنشه یي توکوسره مبارزه وکړي هغه نوبیا په افغانستان کې دومره صلاحیت اوامکانات نه لري اوهغوی ته څوک اختیارنه ورکوي.

خو دکتور مصباح الله بیا پدې هکله پدې باوردی چې پدې برخه کې کومې ملی ستراتیژي شتون نه درلود اونه هم کوم جدې کارپدې هکله شوی دی؛ اوکومې ادارې چې په دې برخه کې شتون لري ځینې خلک خو دټوکې په توګه هغوی) ته(دنشه یي توکو دترویج اداري وایي .

دکتور مصباح پدې اند دی چې د روسانو هغه ادعا چې له مخې یې امریکا اوناټو د نشه یي توکیو په تولید او قاچاق کې پېره بللې ده ، ترډېره له حقیقت څخه لرې نده ،او په همدې اساس په شمالي ولایتونوکې چې کله امریکایانو شتون درلود دنشه یي توکو کښت ډېرزیات شوی ؤ تردې چې دجنوبې ولایتونوپه پرتله هم د کښت ګراف لوړ ؤ.

پدې هکله چې ګواکې رښتیاهم دنشه یي توکوسره صادقانه مبارزه شوې اوکنه اوددې توکو دکښت اوتولید دلوړوالي لاملونه څه دي؟ په هکله یې حسیب الله مؤحد انتقاد کوي اووایي چې دا هم دنورو مسایلو په شان چې دوی ورته په خپل راپورکې ځای ورکړی، یوازې دقضیي یو لوری په نظرکې نیولی دی؛ که چېرې مونږ له یوې پراخه برنامې پرته ، یوازې افراد اواشخاص ددې د له منځه وړلو لپاره په کار وګمارو کومه پایله به ونلري اوپدې برخه کې دپیسو لګول په حقیقت کې دسرچینو ضایع کول دي.

د اقتصاد پوهنځي استاذ پوهنمل مؤحد څرګندوي چې که وګورو نن ورځ بزګران په ډېره لومړنۍ بڼه کرهڼېز محصولات تر لاسه کوي، خو د ساتلو کوم ځای یې نشته او کله چې بهرنیو هېوادونو ته صادریږي یاپه لاروکې خرابیږی اویاهم په ډېر ټیټ قیمت خرڅېږي نو بزګران هم مجبوردي داسې څه وکړي چې لګښت یې کم اوګټه یې زیاته وي.

نوموړی زیاتوي: په همدې اساس بزګران نشه یې توکیو ته چې لګښت یې کم اوګټه یې زیاته ده مخه کوي، بهرنې مافیائي مؤسسې هم دنشه یي توکیوپه ترویج کې لاس لري.

نوموړی وایي چې دبېلګې په ډول په شمال کې ځینو مؤسسو دهغه بزګرانو سره د کرهڼې په برخه کې د وسایلو او کیمیاوي سرو کمک کولو چې نشه ئي توکي یې کرل.

مؤحد په دې اند دی چې دنړیوالې ټولنې سیاستونه هم ددې لامل ګرځېدلي چې نشه ئي توکي په افغانستان کې دکمېدو پرځای زیات شي.

حسیب الله مؤحد دحل لارې په توګه وړاندیزکوي چې باید دنشه ئي توکو بدیل بوټي (زعفران) ترویج شي، یوه اوږد مهالې ستراتیژي رامنځ ته شي چې په اساس یې ګټه تریوبریده دبزګرانو لاس ته ورشي اوبزګران پدې مطمئن شي چې دولت د دوی ملاتړی دی او پیداواریې په ښه قیمت ترې اخلي.

پای

غزه و بر افتادن نقابهای دروغین

متاسفانه دربدری، زندان، شکنجه، تبعید و کشتار فلسطینی‌ها توسط صهیونیست‌ها که از دهه‌ی دوم قرن بیستم میلادی، با همکاری انگلیس و سپس آمریکا و متحدانش آغاز شد، هنوز هم ادامه دارد. داستان این همه ظلم و تجاوز و جنایت مثنوی هفتاد من کاغذ می‌طلبد...

بیست روز پیش رژیم صهیونیستی با مشورت و چراغ سبز آمریکا و اذناب منطقه ایش، حمله‌ی ددمنشانه‌ای را از زمین، هوا و دریا حیدر غلامیعلیه «غزه»، آغاز کرد تا کنون ۱۰۵۰ نفر شهید و ۵۷۰۰ نفر نیز زخمی و هزاران منزل نیز ویران شده‌اند .

در این مدت که شاهد نسل کشی مردم محصور، مظلوم و رنج کشیده‌ی فلسطین در «غزه» بوده‌ایم، مشاهده و شنیدن موارد ذیل باعث شد تا چهره‌ی واقعی بسیاری از مدعیان حقوق بشر، آزادیخواهی، ظلم ستیزی، ناسیونالیسم عربی و اسلامگرایی بیش از پیش آشکار شده و نقاب از چهره‌ی آنان برداشته شود .

۱ـ حمایت مستقیم آمریکا و کشورهای غربی منادی دفاع از حقوق بشر ـ و آزادیخواهی از رژیم صهیونیستی در قتل عام و نسل کشی مردم بی‌دفاع غزه. این در حالی است که همین کشورها گاهی در اعتراض به حکم اعدام یک قاتل جانی و ... با بوق و کرنای تبلیغاتی حمایت از حقوق بشر و... گوش عالمیان را کر می‌کنند .

۲ـ پخش اخبار و گزارشهای گزینشی، تحریف شده، دروغین و جانبدارانه‌ی نسل کشی در غزه، توسط مطبوعات و رسانه‌های دولت‌های غربی و اذناب آن‌ها. این رسانه‌ها (بی‌بی‌سی، صدای آمریکا، العربیه و ...) می‌کوشند با موجهه جلوه دادن جنایت صهیونیست‌ها و و ظالم نمایاندن مظلوم و مظلوم نمایاندن ظالم، افکار عمومی جوامع را منحرف نمایند .

۳ـ سکوت و حتی همدردی! سازمان ملل متحد با رژیم صهیونیستی و عدم صدور حتی یک بیانیه‌ی لفظی در حمایت از مردم مظلوم غزه و محکومیت حمله و تجاوز به آن‌ها .

این موضعگیری، حرکت نمادین برخی از فلسطینی‌های اخراج شده از وطن را در ذهنم تداعی کرد .

در دهه‌ی نود میلادی رژیم صهیونیستی، چهارصد نفر از فعالان فلسطینی را مجبور به ترک وطن کرد؛ و سازمان ملل نیز هیچ واکنشی در برابر این اقدام ظالمانه انجام نداد. آن‌ها به نشانه‌ی اعتراض، در مرز لبنان تحصن کردند. در یکی از همان روزها در حضور ده‌ها خبرنگار، تابوتی آورده و آرم سازمان ملل را در آن قرار دادند. تابوت را بر روی شانه‌هایشان حمل کرده و در قبری که برایش کنده بودند، دفن کرده؛ و آرم سازمان ملل متحد را بر روی آن نصب کردند؛ تا بیان کنند که این سازمان علی رغم ارائه‌ی برخی از خدمات انسان دوستانه، فلسفه‌ی وجودی خود را از دست داده و به تغییراتی اساسی و بنیادین نیاز دارد .

۴ـ همفکری، همراهی و یاری مستقیم و غیر مستقیم برخی از حکومتهای عربی (مصر، عربستان، امارات و ...) به رژیم صهیونیستی در کشتار مردم بی‌گناه غزه؛ و سکوت معنادار اکثریت کشورهای عربی .

این موضعگیری ننگین و شرم آور مرا به یاد سخنی از انور سادات انداخت؛ که پس از امضای پیمان کمپ دیوید با رژیم صهیونیستی، بیان کرده بود وی گفته بود: «این حکام عرب که از من شدیدا انتقاد می‌کنند و مرا به عنوان یک خائن معرفی می‌کنند، باور کنید خود آن‌ها هم می‌خواهند به این نقطه برسند، اما این واقعیت را نمی‌توانند عینا بیان کنند. من اطمینان دارم آن‌ها پشت سر من خواهند آمد جرم من این است که پیشتاز بودم. آن‌ها می‌خواستند در این راه قدم بگذارند، ولی جرات و جسارت آن را نداشتند..»

۵ـ سکوت معنادار سازمان کنفرانس اسلامی و اکثر کشورهای اسلامی و عدم تحرک و فعالیت جدی در راستای توقف این کشتار وحشیانه؛ و عدم کمک به مردم مظلوم و محاصره شده‌ی ـ بخوانید: زندانی ـ غزه .

به نظر می‌رسد در چنین شرایطی، تنها کار ممکن ما این باشد که در حد توان با گفتار، نوشتار و ... در منابر و رسانه‌ها و دنیای مجازی، حقیقت این ظلم و جنایت رژیم صهیونیستی و حمایت کنندگانش را بیان کنیم؛ و با دعا و ارسال کمکهای نقدی به مردم مظلوم غزه، دین خود را نسبت به این انسانهای ستمدیده‌ی زجر کشیده ادا نماییم .

به امید روزی که ارزش و کرامت ذاتی انسان در درونمان نهادینه شده و شاهد نجات و رهایی تمامی مظلومین از چنگال ظالمان باشیم.

اړیکې: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

دا اختر د غم اختر ؤ

دا اختر د غم اختر ؤ — نه ښایسته نه بختور ؤ
هر طرف ته د غم غږ ؤ — په هر کلي کې ژړا وه
واویلا سره غوغا وه — داسې ویر داسې ماتم ؤ
لکه دلته چې راغلې — کومه نوې کربلا وه
هدیره کی مو راجوړ دي — بلاډېر لوی واړه ځلي
شنه توغونه پرې رپېږي — شهیدان دي نازولي
دي پراته تر خاورو لاندې — د ارگون او غزې ښکلي
په چا مور خواره شوه بوره — چانه پاتې شوله ناوې
او له ډیرو ځینې پاتې — یتیمان درجن درجن دي
لکه باغ خزان وهلی — سره گلان دی مړاوي مړاوي
د بمونو باران جوړ دی — مسلمان باندې وریږي
د اسلام او کفر جنگ دی — مسلمان پکې قتلیږي
اسلامي امته ویښ شئ — خدای لپاره لاس په کار شئ
دغفلت خوبونه پریږدئ — سترگې پرانیزی بیدار شئ
فرهاد بیدار

سخاوت

فهیمه رشیدزی

ته مې نه څېره نه مې لباس گورې
ښه نیت د ننه مې اخلاص گـورې
تا ته د رنگونو څه توپیر نشـــــته
نه د سپینو تورو مخ او لاس گورې
نیک عمل او پاک زړونه دې غوره گړل
نه دې چا لښـــکر او نه یې آس گورې
دا چې خلیفه دې خپل انسان کړلو
ډېر یې مهربانه چې یې پاس گورې
هـر قسم خصلت د انســانانو دی
تا چې وي ټاکلی هغه خاص گورې
لوړې مـرتبې او هم یې ټیټې شته
ته یې د غوښتوونکو التماس گورې
ښه خصـلت د زرو سره کانونه دي
نه د دنیا زر او نه یې التماس گورې
دلـسې چې کرلی دهقان فصـل دی
ته د نېکو فصل هم یې داس گورې
هلـته بـه ستا مینه ډېره کلکه شـي
لیک د عملو چې په ښي لاس گورې
دا رشـیدزی صـرف په تا تکـیه کوي
ځکه چې نه ړوند او نه ته تاس گورې

شپږ ورځې روژه د ټول کال له روژې سره برابره

د حضرت ابو ایوب الانصاري په روایت د مسلم شریف حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

چاچې د روژې مبارکې میاشتې روژه ونیوله او بیا ورپسې د شوال د میاشتې شپږ ورځې هم روژه شو نو لکه ټوله زمانه یې چې روژې نیولې وي.

بل حدیث شریف کې ددې تفسیر بیا داسې شوی دی الله جل جلاله یوې نیکي ته د لسو نیکیو ثواب ورکوي نو درمضان یوې میاشت ته د لسو میاشتو او د شوال شپږو ورځو ته د ددوو میاشتو اجر ورکوي.

نو که چاته الله د روژې میاشت او بیا ورپسې د شوال شپږ ورځې همیشه د نیولو توفیق ور په برخه کړي ټول عمر به یې روژه حساب شي.

د شوال روژې یو ځانگړی اهمیت لري یعنې سره لدې چې دا نفلي عبادت دی خو که یو مؤمن غواړي چې د خپل فرضي عباداتو اثر په خپل ژوند اود معنویاتو په تقویه کې ولري نو باید څه نفلي عبادات هم ورسره ادا کړي.

او روژه په نورو عباداتو کې یو ځانگړی مقام لري ځکه چې انسان په دې سره خپل نفس د محرماتو نه منع کوي. نفس غواړي په خاصو وختونو کې خوراك او څښاك وکړي او په روژې سره ورباندې بندیز لگیږي دغه راز نفس غواړي نور ډېر څه وکړي خو روژه یې کنترولوي. نو ځکه ددې په وسیله یو ځانگړی معنویت لاس ته راځي.

فرق غیرت آن زمان و این زمان

روایت است زنی در سال ۲۸٦هـ ق به نزد قاضي شهر ري رفته از شوهرش شکایت نموده گفت: شوهرم مهر را، که پنجصد دینار مي باشد، نمي دهد، ولي مرد از این چیز انکار ورزید، آن زن شاهدان را احضار نمود و آن ها هم به نفعش شهادت دادند، برخي از حاضرین مجلس گفتند: باید زن چهرهٔ خویش را برهنه سازد

تا بدانیم که یقینا او همسر این مرد است یا نه، در این حال، مرد گفت: این عمل را انجام ندهید، او در ادعایش راستگو است، به این ادعا اعتراف نمود، و ادای مبلغ را پذیرفت تا این که چهرهٔ همسر- خویش را محفوظ بدارد. زماني که زن غیرت شوهرش را دید گفت : او به این امر اعتراف ورزیده تا این که چهره ام را از دید بیگانه گان مصون بدارد، پس من هم مهرم را براي او در دنیا وآخرت بخشیدم. قاضي از این ماجرا شگفت زده شده گفت: « باید این ماجرا در مکارم اخلاقي درج شود»

(از کتاب اخلاق اسلامی وفلسفه آن)

و معلوماتی

رمضان گذشت ولی خدا ماندگار است

شعار هر مسلمان همان ندای قرآنیست که به پیامبر و امتش آموخته است که ان صلاتی و نسکی و محیاي و مماتی لله رب العالمین (نماز و عبادت و زیستن و مردن من از آن خدا و برای اوست که پروردگار جهانیان است.) - الانعام ۱٦۲

بیایید در همه اوقات و حالات مطابق همین شعار زندگی کنیم تا همیشه مسلمان بمانیم زیراکه مسلمان در هر حال به ایمان خویش پایدار می باشد.

در پایان می خواهم آن پیام نخستین خلیفهٔ مسلمانان حضرت ابوبکر (رض) را برایت بازگو کنم که بعد از وفات پیامبر ص یاد می کند، پیامی که همه مسلمانان غمگین و آشفته را که در اطراف جنازهٔ پیامبر (ص) حلقه زده بودند دوباره به هوش آورد. و آن پیام این بود که: من کان منکم یعبد محمدا، فان محمدا قد مات و من کان منکم یعبد الله فان الله حي لا یموت (هرکه از شما محمد را پرستش می کرد، پس بدانید که محمد مُرده است، و هرکه خدا را عبادت می کند پس خدا همیشه زنده هست و نمی میرد(.

شما هم اگر رمضان را پرستش می کردید، پس بدانید که رمضان گذشت و اگر خدای متعال را پرستش می کنید او همیشه زنده و پاینده است.

فقط شش روز شوال اما ثواب سالها

برادر مسلمانم: روزه گرفتن شش روز بعد از رمضان فواید بسیاری دارد که این برکات و فواید از آن کسانی است که این شش روز را روزه بگیرد و حال این تو هستی که باید این فوائد را از سخنان حافظ ابن رجب(رحمه الله) استنتاج کنی که می گوید:

به راستی شش روز روزه ی شوال بعد از رمضان، کامل کننده ی ثواب روزه داری در تمام سال است. و روزه ی شوال و شعبان در حقیقت همانند نماز های سنت هستند که قبل و بعد از نماز های فرض خوانده می شوند تا کم و کاستی های نماز فرض را جبران کند. بدون شک در روز قیامت این نوافل و سنت ها هستند که مکمل و جبران کننده ی کم و کاستی فرائض اند. این در حالی است که روزه ی بیشتر مردم با کم و کاستی و نقص هایی همراه است و احتیاج به عملی نافله دارد که این کم و کاستی را جبران کند. قطعا روزه داری بعد از اتمام روزه ی ماه رمضان بدین معناست که روزه های ما در رمضان مورد قبول حق تعالی گشته است. زیرا که اگر الله تعالی عمل بنده ای را بپذیرد، به وی توفیق انجام عمل صالحی دیگر می بخشد. همان طور که گفته اند: ثواب و پاداش نیکی، انجام نیکی بعد از آن است. و هرکسی که عمل نیکی انجام دهد و بعد از آن اعمال نیکش ادامه یابد، بدین معناست که نخستین عمل نیکش پذیرفته شده و همچنین شخصی که بعد از انجام عمل نیک اعمالی ناشایستانجام دهد به معنای پذیرفته نشدن عمل وی است.

فرق غیرت آن زمان و این زمان

روایت است زنی در سال ۲۸٦هـ ق به نزد قاضي شهر ري رفته از شوهرش شکایت نموده گفت: شوهرم مهر را، که پنجصد دینار مي باشد، نمي دهد، ولي مرد از این چیز انکار ورزید، آن زن شاهدان را احضار نمود و آن ها هم به نفعش شهادت دادند، برخي از حاضرین مجلس گفتند: باید زن چهرهٔ خویش را برهنه سازد

تا بدانیم که یقینا او همسر این مرد است یا نه، در این حال، مرد گفت: این عمل را انجام ندهید، او در ادعایش راستگو است، به این ادعا اعتراف نمود، و ادای مبلغ را پذیرفت تا این که چهرهٔ همسر خویش را محفوظ بدارد. زماني که زن غیرت شوهرش را دید گفت : او به این امر اعتراف ورزیده تا این که چهره ام را از دید بیگانه گان مصون بدارد، پس من هم مهرم را براي او در دنیا وآخرت بخشیدم. قاضي از این ماجرا شگفت زده شده گفت: « باید این ماجرا در مکارم اخلاقي درج شود.«

(از کتاب اخلاق اسلامی وفلسفه آن)

په خپل قسمت راضي اوسه!

ژباړه: دینداړخپل

ویل کېږي چې یو سړي داختر په ورځ خلک ولیدل چې غوښې خوري، خپل کور ته چې لاړ ویې لیدل چې مېرمن یې نخود پاخه کړي دي.

مېرمن یې ورته وویل اختر مو مبارک شه.

فقیرسړی کېناست او د نخودو په خوړلو یې پیل وکړ، نخود خوري او پوستکي یې له کړکۍ لاندې غورځوي او په زړه کې وایې ټول خلک غوښه خوري او زه نخود خورم؟!

فقیر چې له کورځخه ووت داسې یوه نا اشنا پېښه یې ولیده چې هک پک یې کړ!

گوري چې یو سړی دده دکور تر کړکۍ لاندې ناست دی او د نخودو پوستکي پاکوي او بیایې خوري.

